# کيميا گر

## ناول

## ليکوال  پاولو کويو

## خلاصه او ژباړه: صفيه حليم

### د ليکوال په اړه

د پرتگالي ژبې نامتو ناول، " کيميا گر" دپاولو کويو له خوا په ۱۹۸۸ م کې له چاپه راوتلو.  له هغې راهيسې دا کيسه په ۶۷ ژبو کې ژباړل شوې او په ۱۵۰ ملکونو کې ولوستونکي لري.
پاولوکويو د برازيل اوسېدونکې دې او په ۱۹۴۷ م کې په "ريو ډي جنيرو" کې وزېږېدو.  د ځوانۍ په درشل کې ده غوښتل چې ليکوال شي او تل به يو باغي په شان خبرې کولې.  د خپل چلن له کبله درې وارې پاگل خانې کې داخل کړې شو چې دې به ترې وتښتېدو.  اخر دمور پلارپه خوښه د حقوقو پوهنځي يې ولوستو.  د ۱۹۶۰ م په کلونو کې دې لکه د نورو ځوانانو د جنوبي امريکه او اروپاي ملکونو کې وګرځېدو په د نور ليکنو سره سره سندرې هم ليکلې.

Ketabton.com

### کيسه

هغه ځوان شپون  "سانتياگو" نومېدو چې ماښام د خپلو پسونو د رمې  سره په بيديا کې د يو کليسا کنډوالو ته ورسېدو.  د دې کليسا چت لا پخوا غورځېدلې و او اوس پکې د اينځر او د توتانو  ونې راټوکېدلې وې.  په ځينو ونو کې د مصر شهتوت هم شنه شوي و.

(c) ketabton.com: The Digital Library

شپون د شپې لپاره هلته تم شو او ټوله رمه يې له ماتې دروازې وردننه شو.
په هغه دروازه يې څو دړې ودرولې چې رمه يې اخوا ديخوا ولاړه نشي.
په دې سيمه کې ليوان نه و خو يو ځل پخوا ترې يو ځاروې تښتېدلې و نو
.يبا ټوله ورځ ورپسې لالهانده ګرځېدو
ده پخپل واسکټ د فرش يوه برخه پاکه کړه او سملاستلو. هغه کتاب چې
تر اوسه يې پورا نه و ولوستې، د سر لاندې کېښودو، " بايد زه غټ کتابونه
ولولم چې په ولوست يې زيات وخت تېرېږي اوبالښت لپاره ښه وي. ده د
کتاب لومړې پاڼه ولوستله چې پکې د يوې جنازې زکر و او ډېرخلک وچې
ګران نومونه يې و. ده ځان سره وويل، که يو ورځ زه کتاب وليکم نو
.خلک به پکې لږ وي او نومونه به يې اسانه وي
دې چې له خوبه راويښ شو نو لا تيار وه. د مات چت نه يې په اسمان کې
يو څو ستورې ليدې شول. ځان ته يې وويل، " لږ نور خوب به وکړم" يو
څو شپې کېدې چې ده يو خوب ليدلو او نن د خوب د پورا کيدو نه وړاندې
دې راويښ شوې و. ده هغه اوږد کوتک ته لاس کړو چې په معمولې
خوزښت به يې ډېر ځاروي راپاسول. داسې لکه چې په يو مرموز شي د
هغه کوتک سره تړلي و. دې د تېرو دوو کلونو نه شپون و او رمه به يې د
خواړو او اوبو په لټون ګرځووله. ځان سره يې وويل، " دومره راسره
عادت شوي دي چې زما د کار په محال وېش خبرې دي. داسې هم کېدې
"شوه چې زه د دوي په محال ويش پوهيدلې
څو پسونه لږ وروسته راويښ شول او شپون نورد نومونو په اخيستو يو يو
راپاسوو. داسې يې ګڼل چې دې هغوي ته هر څه چې واي، دوي پرې
پوهېدې. کله کله به يې دوي ته د خپل کتاب هغه برخې هم ولوستلې چې
پخپله به يې خوښ شو. کله به يې د خپل يواځېتوب يا د خوښۍ کيسه ورته
وکړه. د کومو باندو نه چې به تېر شو نو د هغې په اړه به يې خپل نظر
.پسونو ته ويلو
د تېرو څلورو ورځو نه ده ورته د تجار د لور خبرې کولې. تجار په هم
هغه کلي کې اوسېدو چې د څلورو ورځو مزل ورته پاتې و. شپون دې
کلي ته تېر کال تللې و. تجار وچ توکي پلورل او په دې يې ټينګار کوو
چې د پسونو وړۍ به د ده په مخکې اوويستل شي چې څوک يې دوکه
نکړي. شپون ته خپل يو ملګري د تجار درک ورکړې و او هلته چې
ولاړو نووې ويل " زه د خپلو پسونو وړۍ خرڅول غواړم." د هغه په

(c) ketabton.com: The Digital Library

دکان کې ډېره ګڼه ګوڼه وه نو تجاورته وویل چې تر غرمې انتظار دې وکړي. شپون د دکان د دهلیز په پوڼو د خپلې خلتې نه کتاب راوویستو او په مطالعه بوخت شو.
"خدای خبر شپانه څنګه کتابونه ولوستلې شي؟" د ده څنګ ته یوې جینۍ وویل. هغې د اندلس د جینکو لباس اغوستې و، ویښته او سترګې یې تور و او لکه د یو فاتح مخ یې لرلو. ده ورته وویل " زه د کتابونو نه زیات د خپلې رمې نه زدکړه کووم." بیا دوي دواړه په خبرو شول او تر دوو ساعتونو یې خبرې کولې.
جینۍ د تجار لور وه او د کلي د ژوند په اړه یې وویل چې هلته ټولې ورځې یو شان وي. شپون ورته د اندلس د ورشوګانو او د ځینو ښارونو په اړه خبره وکړه چې دی پکې ایسار شوې و. د پسونو پر ځای د یوې جینۍ سره خبرې د ده لپاره ښه بدلون و. جینۍ ترې پوښتنه وکړه، " تا ولوستل له کومه زده کړي دي؟" شپون وویل " په ښوونځي کې، لکه د نورو په شان" جینۍ وویل، " ته چې ولوست کولې شې نو بیا رمه ولې پیایې؟
شپون په ځواب کې څه نشو ویلې او خبره یې واړوله. دې پوهېدو چې جینۍ به چرې هم د ده په خبره پوه نشي. ده ورته د خپلې مسافرۍ کیسې کولې چې جینۍ په حیرانتیا اورېدې. شپون ته دې حالت خوند ورکړو او ارمان یې وکړو چې کاشکه تجار پخپلو کارونو نور هم بوخت پاتې شي او دې درې ورځې هم هلته ناست ووسې. خو تجار له غرمې وروستو اوزګار شو او ده ته یې د څلورو پسونو د وړۍ لیرې کولو وویل. شپون ته یې پېسې ورکړې او وې ویل، " بل کال ته بیا راشې"
اوس کال تېر شوې و او په څلورو ورځو کې دې هغه کلي ته تلونکې و. ده خپلو پسونو ته وویل، " که زه له هغې جینۍ هېر ووم نو هیڅ فرق نه کوي، زه د ډېرو نورو کلیو جینکۍ پیژنم" خو پخپل زړه کې یې احساس کولې شو چې هغې جینۍ ورته له نورو توپیر لرلو.
لمرپه ډوبېدو و او ده د رمې مخ د لمر لوري ته کړو. د پسونو په اړه یې سوچ وکړو چې دوي یوازې د خوراک او د اوبو په غم کې وي، نور د هیڅ شي پرواه نه لري. بیا یې د خپل خوب په اړه چرت وهلو چې بېګا یې بیا لیدلې و. هغه د شپې څه نه و خوړلې او سهار وختي یې رمه روانه کړه. لمر اوس تود او په دې وخت به د هسپانیې ټول خلک د غرمې ویده و. د شپې به هوا یخه شوه او ده به خپل واسکټ په ځان تاو کړو. اوس

(c) ketabton.com: The Digital Library

دوه کاله کېدې چې دې د اندلس په لر و بر کې ګرځېدلې و. د ټولو ښارونو نومونه یې زده و. دا ځلې یې هوډ وکړو چې هغې جینۍ ته به وای چې ده څنګه لیک ولوست زده کړي و.
دې د شپاړسو کالو ترسن پورې مکتب ته تلو او د مور پلار یې ارمان و چې دې پادري شي. د کروند ګرو لپاره دا د ویاړ خبره وه چې زوې یې پادري شي. ده هسپانوي او لاطیني ژبې زده کړې خوغوښتل یې چې د ټولې نړۍ په اړه معلومات وکړي. د انسانانو په اړه یې پوهه غوښتله.
اخر یوه ورځ پلار ته چې پټې یې اوبه کول، وویل چې دې د مذهب سره هیڅ علاقه نه لري او ګرځېدل غواړي.
پلار ورته وویل. " زویه، زمونږ له کلي د ټولې نړۍ خلک تېرېږي. دوي د نویو شیانو په لټون راغلي وي، خو کله چې بېرته ځي نو هیڅ بدلون پکې نه وي " زوې ورته وویل، " زه هغه ماڼۍ لیدل غواړم چې دا سیلانیان پکې اوسېږي." پلار ورته وویل. " دوي چې زمونږ کلیو ته راشي نو واي ټول عمر دلته پاتې کېدل غواړي، ګوره بچیه، دوي ډېرې پیسې او د سیاحت لپاره وسایل لري. په مونږ کې یواځې شپانه سیاحت کولې شي چې د خپلې رمې سره ګرځي. " زوې ورته وویل، " ښه نو بیا زه به د شپنو ژوندپېل کړم" پلار ورته نور څه وونه ویل. په بله ورځ یې یوه کسوړه د ده په لاس کېښوده چې پکې د لرغوني هسپانیې د سرو زرو درې سیکې وې.
ورته یې وویل، "یوه ورځ مې زمکه اړوله نو په دې پټیو کې مې موندلې وې، ما ستا لپاره دا د میراث په توګه وساتل. اوس پرې پسونه واخله او څروه یې." بیا یې زوې ته دعا وکړه او دې یې رخصت کړو.
شپون سره اوس د پسونو نه علاوه د لېږ دېږ لپاره یو واسکټ او یو کتاب و. کله چې لمر پرېوتو نو ده چرت وهلو، " زه به سبا تر غرمې " تعریفه " ښار ته ورسېږم، هلته به د دې کتاب په بدل کې یو غټ کتاب واخلم، ړیره به وخرېم، ویښته به لنډ کړم او ډوډۍ به واخلم. د جینۍ په اړه یې هم سوچ وکړو. خو دا منفي خیال یې نشو کولې چې هغه به واده شوې وي. ده د خپل خوب په اړه چرت وهلو او ناڅاپه د چا خبره یې په زړه شوه چې په تعریفه کې یوه سپین سرې ښځې خلکو ته د خوبونو تعبیر ښودلو.
په بله ورځ شپون د هغې سپین سرې مېرمنې د کور په یوه کوټه کې ناست و او هغې د ده دواړه لاسونه پخپل لاس کې نیولي، څو دعاګانې وویلې.

(c) ketabton.com: The Digital Library

ډېر وخت هم دغسې تېرشو نو ده خپل لاسونه ترې راښکل " زه خو درته د لاس ښودلو له نه يم راغلې." ښځې ورته وويل، خوبونه د خداې ژبه وي، ما ته خپله معاوضه راکړه او خوب راته بيان کړه. " شپون اوس پښېمانه و چې ولې دلته راغلو خو خپل خوب يې ورته وويلو، " ما دوه وارې دا خوب ليدلې دې، چې زه د خپلې رمې سره په ورشوکې يم. يوه ماشومه راښکاره شي او څو شېبې د پسونو سره لوبې کوي. بيا ناڅاپه ما پخپلو دواړو لاسونو کې اوچت کړي او د مصر په اهرامونو مې ور واچوي. ماشومه راته واي، که ته دې ځاې ته ورسېدې نو يوه پټه خزانه به ترلاسه کړې. کله چې ماشومه راته د خزانې اصل ځاې راښاي نو زه راويښ شم. دواړه ځلې هم داسې شوي دي."

ښځې څو شيبې غلې پاتې کېدو وروسته وويل، " زه اوس تا نه هيڅ معاوضه نه اخلم، خو که هغه خزانه دې وموندله نو لسمه برخه به پکې زما وي." شپون په خندا شو او د تعبير د څو پېسو په سپما خوشاله شو. ورته يې وويل، " ډېر ښه تعبيردې " ښځې ورته وويل، " ما سره لوز وکړه او څوګند پورته کړه چې زه تا ته کوم تعبير ښايم، د دې په بدل کې به ما ته د خزانې لسمه برخه راکوې."

شپون ورته څوګند وخوړو چې د ده غوښتنه به پورا کوي. ښځې ورته وويل، " د مصر اهرام وجود لري او ته بايد هلته ورشې او هغه خزانه پېدا کړې چې ته به پرې ډېر شته من شې" شپون حيرانه او وېزاره شو. د دومره وړوکي خبرې لپاره دلته د راتلو څه اړتيا وه ؟ خو بيا يې زړه تسلي شو چې د تعبير لپاره يې پيسې نه وې ورکړې. د ښځې نه يې پوښتنه وکړه چې دې به مصر ته څنګه ځې؟ هغې وويل، " دا زه درته نشم ويلې، زما کار د خوب تعبير ښودل و" شپون وويل، " او که زه چرې هم مصر ته ولاړ نه شم نو بيا؟" ښځې وويل، " بيا هيڅ مه راکوه ...داسې به په لومړي ځل خونه وي...ډېرو خلکو راسره داسې کړي دي چې معاوضه يې رانه وخوړه. بس اوس ولاړ شه چې ډېر وخت دې راضايع کړو"

هلک مايوسه شو او هوډ يې وکړو چې بيا به په ژوند پخپلو خوبونو باور نه کوي. ده خپل پسونه د يو ملګري سره پرېښي و. بازار ته ولاړو، د خپل وړوکي کتاب په بدل کې يې لوې کتاب واخستو او څه د خواړو شيان يې هم راوړل. ده په ښار کې له خلکو سره ليدل چې د ده د سېل خونده وره

(c) ketabton.com: The Digital Library

برخه وه. غرمه د یو دکان سیوري کې کېناستو او چې ډوډۍ یې وخوړه نو .د کتاب په ولوستلو بیېپل وکړو
شپون د دکان په پوښو ناست و چې یوسپین ږیري راغلو او ورسره کېناستو. ده سره یې خبرې کولې خو شپون ورسره په سمه خله ونه غږېدو. خپل کتاب ته یې کتل خو د تجار په وړاندې د پسونو د وړۍ لرې کولو په اړه یې چرت وهلو. بوډا ترې د کتاب پوښتنه وکړه او شپون غوښتل چې هلته نه پاسي او لیرې په یو بینچ کېني. خو بیا یې د پلار .خبره په زړه شوه چې د سپین ږیرو احترام کول پکار دي
کتاب یې سپین ږیري ته ورکړو. خو په اصل کې ده د کتاب نوم نشو تلفظ کولې نو فکر یې وکړو چې که بوډا هم ورباندې نه پوهېدو نو پخپله به پیکه شي، بوډا د کتاب پاڼه واړوله او وې ویل، " دا ډېر خشک کتاب دې"
شپون ټکان وخوړو چې بوډا هغه کتاب له ده وړاندې ولوستې و. که دا خشک و نو وخت یې لرلو چې بدل یې کړي. بوډا وویل، "په دې کې هم هغه څه لیکلي دي چې په نورو کتابونو کې دي" شپون د سپین ږیري لباس ته وکتل چې د عربانو په شان و اواندازه یې ولګوله چې دې به د افریقا نه راغلې وي چې د "تعریفه" نه د څو ساعتو په مزل وه او د کشتۍ د لارې یو خلیج نه په تېرېدو ورته خلک تلې شول. د ښار په بازارونو کې .به ډېرعربان ښکارېدل
ده له سړي د ځای پوښتنه وکړه نو هغه وویل، "زه د ډېرو ځایونو یم او زما نوم " مالکي زیدیک" دې. " له ده یې وپوښتل، " ته څومره پسونه لرې؟" شپون وویل، " ډېر دي" ده احساس کوو چې هغه سړې د ده په اړه له ډېر څه نه خبر و او ده غوښتل چې ځان ترې خلاص کړي. کتاب یې بېرته وغوښتو نو سپین ږیري وویل، " که ته ما ته د خپلو پسونو لسمه برخه ".راکړې نو زه به د پټې خزانې په لټون کې ستا مرسته وکړم
شپون ته خپل خوب را یاد شو او په زهن کې یې هر څه واضح شول. داسې یې انګېرله چې دا سړې د هغې مېرمنې مېړه دې چې رانه یې معاوضه وانخسته. اوس دې تربڼه پسونه غواړي چې یو څه رانه بوت کړي. پخوا له دې چې هلک ورته څه ویلې وې، سړي خپله امسا واخسته او د دکانونو مخ ته په شګه یې څه ولیکل. د ده له سینې یوه وړانګه راوځلیده چې د شپون سترګي یې خیره کړې. سړي د خپلې ټوپۍ سره هغه وړانګې پټې کړې او د شپون دید چې سم شو نو په شګه لیکلي الفاظ یې

(c) ketabton.com: The Digital Library

ولوستلې شول. هلته د خپل مور، پلار اود هغه مکتب نوم يې ولوستل چې
ده پکې سبق ويلې و. د تجار د لور نوم هم ليکلې و، سره له دې چې هغه
پخپله تر اوسه د هغې له نوم خبر نه و. هلته داسې شيان ليکلي و چې په
.باره کې يې ده ته هيڅا خبره نه وه کړې
سړي ترې پوښتنه وکړه، " ته رمه ولې پيايې؟ شپون وويل، " زه سېل کول
غواړم ځکه" سپين ږيري يو نانواي ته اشاره وکړه چې د تنور مخ ته ولاړ
و، " کله چې دې ماشوم و نو د سياحت ارزو يې لرلو، خو لومړې د نانواي
هټۍ يې پرانستله چې څو پيسې وګټي او سپما کړي. کله چې دې زوړ شي
نو د يوې مياشتې لپاره به افريقه ته ولاړ شي. دې به چرې احساس نه کوي
"چې خلک د خپل خوب درېښتيا کولو صلاحيت هم لري
سړي د کتاب پاڼې اړولې او يو متن يې ورته ولوستلو. ده ته دا کار
مداخلت ښکاره شو او پوښتنه يې وکړه" ته دا ولې ما ته ښايې؟ سړي
وويل، "ځکه چې زه غواړم ته پخپل قسمت ځان پوهه کړې. که غواړې
چې د خزانې په اړه درته څه ووايم نو سبا په دې وخت راته د خپلې رمې
.لسمه برخه راکړه." بيا دا سړې د بازار په يو ګوټ پير ورک شو
شپون بيا د کتاب په ولوستلو بوخت شو خو اوس يې فکر بل ځاې و. دې
نانواي ته ولاړو او يوه ډوډۍ يې ترې واخسته. د ډوډۍ په خوړلو دې ښار
کې وګرځېدو او هغې ودانۍ ته ورسېدو چې په يوې کړکۍ کې خلکو افريقه
ته د تلو لپاره ټکټونه اخستل. دې څه وخت هلته ولاړ و او سوچ يې کوو
چې که يوه پسه خرڅه کړي نو افريقه ته تلې شي. بيا د خپلو پسونو ته د
تلولپاره په لاره روان شو. کله چې دې د ښار د لرغونې مانۍ څنګ نه
.تېرېدو نو د ډېرو جوړ په هغو پونيو وختلو چې بره دېوال ته تللې وې
يو چا ورته وېلې و چې له دې پونيو د سمندر نه وراخوا د افريقه زمکه
ښکارېده. دا يې هم اورېدلې و چې يو وخت عرب قبايلو ټوله هسپانيه نيولې
وه. بره له ديوال هغه ټول ښار ليدې شو. هغه وخت باد دده په مخ
ولګيدو. دې باد ته به خلکو " ليوانتر" ويل چې د شمالي افريقه مسلمانان
ورسره راغلي و." هغه چرت وهلو چې د پسونو سره پاتې شي او که
خزانې پسې ولاړ شي. يو هغه څه و چې دې ورسره اشنا و، د بل ارمان
يې لرلو. بيا ځان ته يې وويل، " ما خپل مور پلار پرېښودل او هغوي به
" اوس عادت شوي وي، زما پسونه به هم بې له ما عادت شي

(c) ketabton.com: The Digital Library

په بله ورځ ده شپږ پسونه له ځانه سره کړل او هم هغه دکان ته ولاړو چې مخې ته يې د سپين ږيري سره ليدل. هغه ته يې وويل، " زه حيران يم چې زما ملګري رانه ټول پسونه وپلورل او ويل يې چې د ده رمه ساتل خوښيږده " سپين ږيري وويل، " هم دغسې کيږي، دې ته د حمايت اصول واي چې يو ځواک درته د برياليتوب لاره هواروي" بيا هغه د پسونو معاينه وکړه. يوه پسه پکې ګوډه وه خو هلک ورته وويل چې دا د دې عيب نه دې ځکه .دا په ټوله رمه کې هوښياره وه او ډيره وړی به يې ورکوله
سړي د خزانې په اړه ورته وويل چې دا د مصر د اهرامونو سره نږدې ده او د دې په لټون په هر يو شګون ځان خبروې. داسې شګون په لاره به درته ښکاره کيږي. په دې وخت کې يوه لولکی ( پرپرکې يا بورا) د دوي ترمنځ په الوت شوه. ده ته د خپل نيکه خبره را په زړه شوه چې کله يو پتنګ، پرپرکې يا چرچری ستاسو په منځ کې راشي نو دا ښه شګون وي. سپين ږيري وويل، " ستا نيکه ريښتيا ويلي دي، دا ښه شګون وي" شپون حيرانه شو چې هغه څنګه د ده د زړه په خبره پوهه شو؟
سپين ږيري خپله قبا ورته پرانسته نو دې لا نورحيرانه شو. د ده په سينه د سرو زرو يوه تخته ځوړنده وه چې وربانديې په الماسو ډيرو څه ليکلي و. هم د دې تختې ځلا هغه پرون ليدلې وه. هغه سړي په تخته کې لګيدلي دوه کاڼي رابيل کړل چې يوسپين او بل تور و. " دا ډبرې " يوريم او تهوميم" نوميږي. توره ډبره د " مثبت " يا د " هو " مانا ورکوي او سپينه د منفي يا د " نه " کله چې ته په شګون پوهه نشې نو دا ډبرې به درسره مرسته "وکړي. خو ياد لره چې خپلې فيصلې به پخپله کوې
شپون هغه ډبرې خپلې کسوړې کې کېښودې نو سړي ورته وويل، " دا مه هيروه چې د هرې پيښې سره به ته يو وارمخ کيږې. او د دې مانا به دا وي چې نور به هغسې نه کيږي. د شګون ژبه ياد ووساته او تر ټولو مهمه دا چې تر وروستۍ نتيجې خپل برخليک مه هئروه." يوه کيسه يې ورته وکړه چې د خزانې لټون سره سره د خداې پاک د ښکلې نړۍ ننداري دې .هم وکړې
شپون چې د افريقه بندري ښار طنجه (طنجير) ته ورسيدو نو هلته په يوې شراب خانې کې کيناستو او خلکو ته ځير شو. سړو چلمونه څکول، ښځې په ډلو کې ګرځيدې خو مخونه يې پټ و، په مينارونو کې ازانونه و او خلکو په ګډه پر زمکه سجدې لګولې. ده ته دا هر څه عجيبه ښکاريدل خو

(c) ketabton.com: The Digital Library

په دې خفه و چې په عربي ژبې نه پوهېدو. چرت یې وهلو چې د دی ژبې نه پوهېدل به تر مصر د ده سفر اوږد کړي.

د پسونو په خرڅولو د ده کسوړه اوس د پیسو ډکه وه او زړه یې جوړ و چې دې به چرې یواځې نه وي. کله چې دې د پسونو سره ګرځېدو نو د زمکې او د اسمان په مشاهده او د لارې د موندلو هنر یې زده کړې و. په دې خبرو چې د مارغه شته والې ښاي چې په هغه زمکه به مار وي او چرته چې بوټې وي نو اوبه ورسره نږدې وي. ده له پسونو ډېر څه زده کړي و. د ترخو چایو نه یې ګوټ وکړو نو یو چا ترې په هسپانوي ژبې پوښتنه وکړه، " ته څوک یې؟ دې ارامه شو اوهغه عرب ته یې وکتل چې ږیره یې خرېلې او دریشي یې کړې وه. دې د هغه ښار اوسېدونکې ښکاریدو.

سړی ورسره کښیناستو نو چاې یې راوغوښتې او خبرې یېپیل کړې. د شپون نیت و چې ده ته د خزانې په اړه وواي خو بیا یې ژبه ونیوله چې هسې نه دې هم رانه لسمه برخه پکې وغواړي. ورته یې وویل چې دې د مصر اهرام لیدل غواړي. عرب ترې پوښتنه وکړه چې "د هغې لپاره خو ډېرې پیسې پکارې دي، ته دومره سرمایه لرې؟"

شپون ته دا پوښتنه عجیبه ښکارېده خو بیا یې د سپین ږیري خبره رایاده شوه چې " کله ته په ریښتیا یو څه غواړې نو د نړۍ هر شې د دې په تر لاسه کولو کې درسره مرسته کوي. " ده د واسکټ نه د پیسو کسوړه راوویستله اوهغه سړي ته یې ښکاره کړه. هغه وخت د شراب خانې خاوند د دوي خبرې په غور اورېدې. د پېسو د کسوړې په لیدو دې د دوي میز ته راغلو او د هغه بل سړي سره یې په عربي ژبې خبرې وکړې. دې یو څه په قهرو. هغه کس ورته وویل،" دې غواړي چې مونږ له دې ځایه ووځو" شپون د مشروباتو د پېسو ورکولو هڅه وکړه نو د شراب خانې خاوند دې له متو ونیولو او په قهر یې ورته څه وویل. شپون له ده لوړ دنګ و او کولې یې شول چې ورسره پرزونې وکړي خو دې هلته مسافر و.

بل کس هغه یوې خوا ته ورتېله کړو او شپون یې له هغه ځایه راویستلو. بیا یې وویل، " دې ستا پېسو ته غل دې، طنجه د نورو افریقاي ملکونو په څېرنه دې. د دې خپل غله اوډاکوان دي. سبا به قاهرې ته روان شو خو زه به دوه اوښان واخلم او د دې لپاره مې پیسې پکارې دي" شپون ورته د پېسو کسوړه ورکړه او دوي د ښار په کوڅو کې روان شول. یو لوې میدان

(c) ketabton.com: The Digital Library

کې رنګا رنګ شیان په هټیو کې پلورل کیده. شپون ننداره هم کوله او په هغه سرې یې نظر ساتلې و. یو وخت یې په زړه کې وګرځېدل چې د پېسو کسوړه ترې بیرته واخلي خو بیا یې چرت ووهلو چې دا د ملګرتیا اصول نه وي. دواړه روان و او کله کله به د خلکو په ګڼه کې هغه کس وړاندې یا وروسته شو. یوې هټۍ کې شپون یوه ښکلې توره ولیده اوورته ودرېدو. مخ یې واړووو چې ملګري ته ووایې چې د هغې بیه ورته معلوم کړي خو .هغه ورک و

ده څو شېبې اخوا دیخوا وکتل خو داسې یې څرګنده نکړه چې دې وارخطا و. د خلکو ګڼه دومره وه چې ځان ته یې وویل، هم دلته به وي. ډېر وخت چې هغه ښکاره نشو نو دې په هم هغه ځای کېناستو. وخت نور هم تېر شو، ازان ووشو او خلکو لمونځ وکړو. بیا هر چا خپله هټۍ وتړله او بازار خالي شو. شپون هم هلته ناست و چې لمر په ډوبېدو شو. ده چرت وهلو چې نن د لمر خاته پر وخت دې د یو بل ملک اوسېدونکې و، د ده شپېته پسونه و، د تجار لور سره د لیدو ارماني و. اوس د ورځې په پای کې دې په داسې ملک کې مسافر ناست و چې په ژبه یې نه پوهېدو او یوه پېسه یې .هم نه لرله

بازار تش و او شپون په میدان کې یواځې ناست و. ځان ته یې زړه بد شو او له سترګو یې اوښکې توې شوې. ده چرې د خپلو پسونو مخ ته هم نه و ژړلي او اوس خجالت، خداې ته یې ژړل چې ورسره یې ښه چلند نه وکړې. بیا یې سوچ وکړو، هغه څوک چې په خوبونو باور کوي، خداې هم ورسره دا سلوک کوي. ده خپله کسوړه پرانسته چې که پکې د بیړۍ د خواړو نه پاتې ډوډۍ یوه ټوټه پرته وي خو هلته د ده واسکټ، کتاب او د .سپین ږیري له خوا دوه ډبرې ایښې وې

د ډبرو په لیدو د ده زړه ډاډه شو. که دا خرڅ کړي نو د بیرته تلو ټکټ یې پرې اخستې شو خو اوس به بېدار ووسي. ډبرې یې په جیب کې کېښودې او چرت کې شو. د شراب خانې خاوند ورته په عربي کې خبرداری ورکوو چې هغه سړې غل و. ده په جیب کې په ډبرو لاس وهلو داسې لکه چې دا یوه خزانه وه. د سپین ږیري خبرې یې را په زړه شوې چې یوریم او تهومیم نومې ډبرې به درته د شګون په پوهنه کې .مرسته وکړي

(c) ketabton.com: The Digital Library

ده هغه ډبرې له جيبه راوويستې او بيا يې په کسوړه کې واچولې. هغه وخت يې فکر وکړو چې د سپين ږيري خبره ازمويل پکار دي. کسوړه کې يې د يوې ډبرې د نيولو هڅه وکړه خو په دې هڅه ډبرې په کسوړې کې يوې سورې نه بهر وغورځېدې. تر هغې دې خبر نه و چې د ده کسوړه سورۍ شوې وه. دې په زمکه ټيټ شو او دواړه ډبرې يې راواخستې. د ده زړه اوس خوشاله و چې سپين ږيرې ورسره و او د ډبرو په غورځېدو ده ته يو تورې راياد شو.

شپون د چا په غږ راويښ شواو وې ليدل چې دې د بازار په منځ کې ويده و. سترگې يې وغړولې او د عادت له مخې يې د خپلو پسونو لټه وکړه. خوشاله شو چې د خپلې رمې نه بې غمه و، يوه ازادي يې احساس کړه چې دې اوس هر چرته تلې شو. راپاسېدو او ورو ورو روان شو. په يو ځاې کې د خواړو پلورونکې خپله هټۍ د يو لرگين څپر لاندې جوړوله. هټۍ وال خوشاله په کار لگيا و. شپون د ده سره د څپر په اودرولو کې لاس وکړو او چې دا تيار شو نوهټۍ وال ورته د ورځې لپاره جوړېدونکې خواړو لومړۍ ټوټه ورکړه. شپون ترې مننه وکړه او د خواړو په خوړلو وړاندې ولاړو. هلته نور هټۍ وال هم په کار اخته و او يو يې په هسپانوي او بل يې په عربي ژبه خبرو وليدل. داسې ښکارېده چې هغوي د يو بل په ژبه پوهېدل. په دې څو شپېو کې هغه دا زده کړي و چې د خبرو لپاره د ژبې پوهنه ضرور نه وه. دې د طنجه په کوڅو کې روان و او د سپين ږيري خبره يې يادوله چې هر څه يو څپر وي.

د دې ښار په يوې غونډۍ د بلورو پلورونکې تجار سهار راويښ شو او د هره ورځ په څېر يې ځان نارامه احساس کړو. ده د تېرو دېرشو کالو نه په دې غونډۍ د بلورو توکي پلورل. خو اوس يې مشتريان کم شوي و. د ده بل کسب نه و زده، بس هم دغه بلور يې ژوند و. يو وخت به ورته د اروپا خلک راتلل او د بلورو توکي به يې اخيستل، گټه يې ډېره وه خو اوس يو بل ښار " سيوټا " کې لوې بازار جوړ و او سپلانيانو به خپله سودا هلته کوله.

په دې غونډۍ د ډېرو خلکو کاربار ته زيان ورسېدو او هټۍ يې تړلې، نورو ځايونو ته تللي و. خو د بلورو د تجار لپاره بله لاره نه وه. کله کله به يو چا د ده په هټۍ کې سر ښکاره کړو او يو نيم شې به يې ترې واخستو. نن هم هغسې ورځ وه. له سهاره دې اوزگار ناست و. خو د

(c) ketabton.com: The Digital Library

غرمې له ډوډۍ لږ وړاندې يو ځوان د ده دکان مخ ته ودرېدو.  د ده جامې سمې وې خو هټۍ وال پوه شو چې هغه پېسې نه لرلې.  دې د ډوډۍ لپاره تلو خو اوس وځنډيدو تر څو هغه ځوان ولاړ شي.
د هټۍ د پاسه په يو بورډ ليکلي و چې دلته په ډېرو ژبو خبرې کيږي. هغه ځوان وردننه شو او هټۍ وال ته يې وويل، " که ستا خوښه وي نو زه به په شيشو کې اېښې د بلورو لوښي درته پاک کړم، په دې حال خو هيڅوک به درنه وانخلي"  هغه د هټۍ وال د ځواب انتظار ونکړو او وې ويل، " د دې کار په بدل کې راته يو څه ډوډۍ راکړه"  هټۍ وال تر هغې ورته هو يا نا نه وو ويلي.
شپون سره نور څه نه و او په دې ښار کې ورته خپل واسکټ بېکاره ښکارېدو.  دا يې راواخستو او د بلورو لوښي او زينتي توکي يې پرې پاک صفا کړل.  دې نيم ساعت په دې کار بوخت و او په دې وخت کې دوه مشتريان راغلل او سودا يې وکړه.  کله چې ده کار خلاص کړو نو هټۍ وال په دروازه يو بورډ وځړوو او دې يې ځان سره نږدې ريستوران ته بوتلو.  دوي په ميز کېناستل، نو تجار وويل، " تا ته د صفاي اړتيا نه وه. په قران کې امر شوې دې چې اوږي کس ته ډوډۍ ورکړئ. " شپون پوښتنه وکړه، " نو بيا ولې دې رانه کار واخستو؟" هټۍ وال وويل، " ځکه چې په بلورو ډېره خاوره پرته وه او مونږ دواړو ته پکار وه چې د خپل زهن نه منفي خيالاتو خاوره مو ليرې کړې وې"
له ډوډۍ وروسته هټۍ وال ورته وويل، " زه غواړم چې ته زما په هټۍ کې کار وکړې، ځکه ته چې هلته وې نو دوه مشتريان راغلل او دا يو ښه شګون و"  شپون ورته غاړه کېښوه، " زه پاتې ټوله ورځ به درسره کاروکړم، ټول دکان به درته پاک کړم.  په بدل کې مې څو پېسې پکارې دي چې سبا مصر ته روان شم"  هټۍ وال وخندل، " که ته ټول کال هم زما په دکان کې کار وکړې او ګټه  مو هم وکړه نو ته به دومره پيسې ونلرې چې مصر ته پرې ولاړ شې.  ته خبر يې چې د دې سيمې او د مصر تر منځ يوه لويه صحرا ده"
دوي دواړه ډېر وخت خاموشه ناست و او شپون غوښتل چې دې مړ شي نو ښه به وي.  هټۍ وال هغه خوشالي چې ټوله ورځ  د ده په څېره ليدلې وه اوس نه ليده.  ورته يې وويل، " زويه، زه به دومره پېسې درکړم چې بيرته

(c) ketabton.com: The Digital Library

خپل ملک ته پرې ولاړ شي. " شپون پاسېدو، خپله کسوړه يې پرغاړه کړه "او وې ويل، " زه به درسره کار کووم، چې يو څو پسونه پرې واخلم شپون تر يوې مياشتې د بلورو د تجار سره کار وکړو او اندازه يې وشوه چې دا د ده د خوښې کار نه و. تجار ټوله ورځ به ورته کتل او وېنا به يې کوله چې څه شې مات نکړي. خو ده کار جاري وساتلو او د هټۍ وال سختي خبرې يې هم په صبر زغملې. ده چې هر شې وپلورلو نو ګټه به يې د شپون سره شريکه کړه. ده اوس څو روپۍ سپما کړې وې او حساب يې وکړو چې که همدغسې کارکېدو نو په کال کې به د دې جوګه شي چې څو .پسونه واخلي
يوه ورځ يې هټۍ وال ته وويل، " زه غواړم چې د زينتي شيانو لپاره د شيشې يوه الماری جوړه کړم. دا به له هټۍ بهرکېږدو چې د غره ډډې نه تېرېدونکي سيلانيان يې ووينې. تجار وويل، " ما چرې هم داسې الماری نه ده جوړه کړې او که بهر مو کېښوده نو خلک به ورسره ټکر وکړي او هر څه به مات شي" شپون وويل، " زه چې کله د رمې سره په بېديا ګرځېدم نو هلته پسونو ته د مار د چيچلو خطر و خو ما به بيا هم رمه ".بېوله
تجار يو مشتري ته پام وکړو چې درې لوښي يې ترې واخستل. د ده کاربار اوس د پخوا په شان روان شوې و او نه يې غوښتل چې اضافه څه وکړي. د شپون نه يې پوښتنه وکړه، " ته د مصر اهرام ته ولې تلل غواړې؟" ده اوس د خزانې د خبرې نه ډډه کوله نو ورته يې وويل، " ما د دوي په اړه ډېر څه اورېدلي دي." هټۍ وال ووېل، " اهرام د تيرو ډېرۍ دي، ته د خپل کور په انګڼ کې هم داسې ډېرۍ جوړولې شې" شپون ورته "وويل، " تا چرې د اوږد سفر خوبونه نه دې ليدلي؟

څو ورځې وروسته هلک بيا د الماری خبره ورياده کړه نو هټۍ وال په قهرشو چې ولې د لوښو نندارتون جوړول غواړي. شپون وويل، " زه خپلو پسونوته تلل غواړم، اوس چې قسمت مو ښه دې نو له دې بايد ګټه واخلو." هټۍ وال وويل، " د مسلمان په حيث زه پينځه فرايض لرم، يوه د خداې په وحدانيت باور، بل پينځه وخته لمونځ، دريم په رمضان کې روژې او .څلورم د خپل مال نه بې وزلو ته ورکړه. پينځم حج دې

(c) ketabton.com: The Digital Library

هغه بله ورځ تا ویلي و چې زه دسیاحت خوبونه وینم نو زما خوبونه د مکې معظمې د زیارت په اړه وي، هغه ستا د اهرامونو نه هم لیرې دي." شپون "ورته وویل، " نو ته ولې خپل خوب نه ریښتیا کوې؟
ده وویل، "زه پوهیږم چې له ما بې وزله خلک هم حج ته ځي. زه هر کال زر وارې د حج خوبونه وینم. له دې صحرا تېرېږم. مکه زما منزل دې خو زه ورته تلل نه غواړم ځکه وېرېږم چې حج مې وکړو نو زما د ژوند جواز به ختم شي. بیا به کوم خوب وینم؟ په دې لاره ډېرې قافلې د حج لپاره ځي او ما سوچ کوو چې دومره پیسې سپما شوې نو ولاړ به شم. خوحج زما منزل دې او څوک چې منزل ته ورسیږي نو بیا نور خوبونه " .نشي لیدې. ما ته د حج خوبونه خوند راکوي
په هغه ورځ ده شپون ته د الماری جوړولو او د بهر ایښودو اجازه ورکړه.
بیا دوه میاشتې تېرې شوې او د نندارتون له کبله ډېر مشتریان دکان ته راغلل. ګټه ډېره شوه اوشپون حساب وکړو چې د کال تر پاې به دې نور پسونه هم واخلي او یو عرب تجار سره تجارت پیل کړي. ده اوس عربي ژبه هم زده کړې وه. هغه دوه ډېرې یوریم او تهومیم چې وروستي ځل یې په بازار کې لیدلې وې بیا یې نه وې لیدلې. د ده لپاره مصر اوس هم هغه هومره لیرې و څومره چې د تجار لپاره مکه معظمه خو ده نوي شیان زده .کړي و
یوه غرمه یې ولیدل چې یو سپل ګر په غونډۍ د ختلو نه وروسته په قهر زوره زوره لګیا و چې هلته د مشروب یوه هټۍ هم نه وه. شپون هټۍ وال ته وویل، " راځه هغو خلکو ته چاې ورکړو چې په غونډۍ خېژي" ده وویل، " شاو خوا ډېرې قهوه خانې دي" شپون وویل، " که مونږ ورته د بلورو په ګلاسونو کې چاې ورکړو نو دوي به رانه لوښي هم اخلي" د هټۍ وال دا خبره خوښه نه وه او شپون ته یې وویل، " بیا به نور خلک هم دا کار پیل کړي او زه به ترې وروسته پاته شم" خو د ورځې په پاې کې .یې ورته د چایو د خرڅولو اجازه ورکړه
د غونډۍ په سر چې سپلانیان راوختل نو مخامخ ورته د بلورو یو دکان کې د چایو څښلو ځاې ښکاره شو. چاې په ښکلیو ګیلاسونو کې چې وڅښل شي نو خوند یې ډېر وي. هر څوک د چایو نه وروسته هم هغسې ګیلاسونه د کور لپاره غواړي. په لږو ورځو کې د دې هټۍ شهرت هرځاې ته ورسېدو. سیلانیانو به نورو ته هم د دې هټۍ درک ورکوو اوځینې

(c) ketabton.com: The Digital Library

سیلانیان به د هتۍ لیدو لپاره ورتلل. بیا نورو تجارانو هم ژر ژر داسې هتۍ پرانستې چې پکې د زینتي توکو سره چای یې هم پلورل. خو د بلورو د هتۍ ځانګړتیا دا وه چې د غونډۍ په سر جوړه وه او هلته بله داسې هتۍ نه وه. مشتریان دومره ډېر شول چې هتۍ وال دوه نور ملازمان د کار لپاره وساتل او اوس د بلورو سره سره ده د چایو کاروبار هم پیل کړو.

شپون د لمر خاته نه وړاندې راویښ شو او خپل عربي لباس یې واغوستو. په افریقه کې اوس د ده یوولس میاشتې او نهه ورځې شوې وې. څپلۍ یې په پښو کړې او په پونډیو ښکته شو. ټول ښار تر اوسه ویده و. ده د بلورو په ګیلاس کې د چایو سره د ډوډۍ یوه ټوټه وخوړه، د دکان نه بهر پیتاوي ته کېناستو او چیلم یې څکول. د ده د روپیو کسوړه اوس ډکه وه چې یو سل او شل پسونه اود بیرته تلو ټکټ یې پرې اخستې شول. ده له افریقه د شیانو د تجارت جواز هم تر لاسه کولې شو.
هتۍ وال چې راویښ شو نو دواړو چای وڅښلې او شپون ورته وویل، زه نن بیرته وطن ته ځم، غواړم چې څو پسونه واخلم او پخوانې کارپیل کړم. ته هم دومره پیسې لرې چې مکې معظمې ته ولاړ شې. هتۍ وال شیبه غلې و، نورې چای یې په ګیلاس کې واړولې او شپون ته یې وویل، " تا زما په هتۍ کې یو نوې روح پوه کړه او زه په تا ویاړم . خو ته پوهېږې چې زه مکې ته نه ځم او ته هم بیرته د شپنو ژوند ته نه ځې.
شپون خپلې کوټې ته ولاړو او جامې کالي یې راټول کړل نو درې بوجۍ ترې ډکې شوې. ده اخوا دېخوا وکتل نو د شپنو کسوړه یې ولیده چې له ډېرې مودې یې نه وه لیدلې. ده ترې خپل واسکټ راوویستلو چې یو چا ته به یې ورکړي نو له دې دوه ډبرې راولوېدې. یوریم او تهومیم.
ده ته سپین ږیرې را په زړه شو. ځان ته حیرانه و چې دومره موده یې د هغه خیال هم نه وکړې. داسې احساس یې وکړو چې اوس دې ورته نږدې و. ده خپله کسوړه راواخسته او نور شیان یې پکې ور ومندل. ښکته ولاړو نو هتۍ وال د دوو سپلانیانو سره په خبرو بوخت و چې په هتۍ کې یې چای څښلې. د هغه موسکا ورته د خواږو خرڅوونکي د موسکا په څیر ښکاره شوه. داسې موسکا د هغه سپین ږیري په مخ هم وه چې دوه ډبرې یې ورته ورکړې وې. ده د هتۍ وال سره په مخه ښه ونکړل ځکه د نورو

(c) ketabton.com: The Digital Library

خلکو په مخکې یې ژړا خفګان نه خوښېدل. کسوړه یې په اوږه واچوله او مخ په ښکته روان شو. ده اوس خپلې فېصلې پخپله کولې شوې.
په هغه ودانۍ کې ناست انګرېز د یو کیمیا ګر په لټون سفر ته راوتلې و. ده د خپل پلار ټوله شته مني د کیمیا ګرۍ د فن په زدکړه خرڅ کړې و او اوس یې په یو کتاب کې ولوستي و چې یو عرب په دې کې بریالې شوې و چې سره زر جوړ کړي. هغه اروپاي ملکونو ته هم تللې واو داسې ویل کیده چې عجیبه ځواک یې لرلو او عمر یې دوه سوه کاله و. ده هر فلز په سرو زرو بدلولې شو او د الفیوم په نخلستان کې اوسېدو. د دې ودانۍ نه بهر د انګرېز لپاره د یوې قافلې تابیا کیده.
دننه د څاروو د مردارۍ او د خولو بوي خپور و. خوانګرېز دا هر څه زغملي و او د مهمو کتابونو په مطالعه یې ځان بوخت کړې و. یو ځوان عرب هم د خپل درونـد پېټي سره هلته تم و او له اروپايي یې پوښتنه وکړه چې دې چرته روان و. انګرېز ورسره په سمه خله خبرې ونکړې. ده ولیدل چې عرب د هسپانوي ژبې یو کتاب را وویستو او په ولوستلو بوخت شو.
انګرېز چې ولیدل نو فکر یې وکړو، دا ښه خبره ده چې زه هم په هسپانوي پوهېږم ، که دې هم الفیوم ته روان دې نو په لاره ورسره خبرې کولې شم.
هغه ځوان چې پخوا شپون و، د تېرو دوو کالو نه هم هغه کتاب ولوستلو چې په سر کې یې د جنازې خبره لیکلې وه. تر اوسه یې څو پاڼې ولوستې وې. ځان سره یې وویل، ما د بلورو تجارت د پرېښودو په اړه سوچ نه و کړې خو اوس د خزانې په لټون راوتلې یم. داانګرېز راسره سمې خبرې نه کوي، که نه ملګرتیا به یې کړې وې. ده کتاب بند کړو ځکه نه یې غوښتل چې د انګرېز پیښې وکړي. ده د خپلې کسوړې نه دوه ډبرې راوویستې او په لاسونو کې یې واړول.
انګریز وویل، " یوریم او تهومیم" ځوان هغه ډبرې ژر پخپلې کسوړې کې کینښودې او وې ویل، " دا د پلورلو لپاره نه دي" انګرېز ځواب ورکړو، " دا دومره مهم هم نه دي، د بلورو په تیږو کې وي. د بلورو تیږې په زرګونو او په لکونو په شمیر موندل کیږي. زه خبر نه ووم چې دا ډبرې په دې سیمه کې هم وي." بیا یې خپل جیب نه هم هغسې تیږې راوویستلې. " دا ډبرې سپیڅلې ګڼل کیږي او مسیحي پادریان یې د سرو زرو په تختو کې لګوي او په غاړه یې اچولې وي."

(c) ketabton.com: The Digital Library

ځوان خوشاله شو، "ته په شګون باور لرې؟"انګرېز وویل، " په ژوند کې هر څه شګون وي"  د دوي خبرې د یو چاغ عرب په راتګ پاې ته ورسیدې چې دوي ته یې د الفیوم د قافلې د تګ خبر ورکړو. ځوان وویل، " زه خو مصر ته روان یم" عرب وویل، " الفیوم  په مصر کې دې، ته څنګه عرب یې؟ هغه سړې ولاړو نوانګرېز ترې پوښتنه وکړه، " ته هم د کیمیا ګر سره لیدو ته روان یې؟" ځوان وویل، " زه د یوې خزانې په لټون یم" خو ژر پخپلې خبرې پښیمانه شو.انګرېز د ده خبرې ته څه پام ونکړو "او وې ویل، " زه هم په یو لحاظ دا کار کووم

بهر د قافلې د تګ لپاره اوښانو ته پړې اچول شوي و.  یوږیره ور چې "سترګې یې تورې وې، دوي ته وویل، " زه د کاروان سالار یم

په دې قافله کې د سفر لپاره دوه سوه سړي، ښځې او ماشومان راټول و، څلورسوه اوښان، اسونه، نورڅاروي او مارغان هم و.  ډېرو سړو سره تورې او ټوپکې وې او دومره شور و چې سالار به خپله خبره څو وارې تکرار کړه.  بیا د خوندې توب لپاره په زوره دعاګانې وشوې او د نغارې په یو درز سپاره روان شول.  هغه ځوان اوانګرېز پخپلو اوښانو کېناستل . دانګرېز په اوښ د کتابونو ډک صندوقونه هم بارو.  کاروان ختیځ لوري ته روان و. هر سهار به یې سفرپیل کړو. د غرمې به پړاو و او ماځیګر به بیا .روان شو

هغه ځوان اوس په صحرا کې نویو شیانو ته کتل او یا به په کتاب بوخت و. یو ساربان ورته وویل، " زه څو وارې د دې شګلنو زمکو نه تېرشوې یم. صحرا دومره لوې وي چې انسان ته پکې ځان ډېرکوچنې ښکاري." ځوان غلې و او هم هغه هوا یې احساسولې شوه چې د تعریفه د کلا په سر یې احساس کړې وه.  ده د خپلو پسونو او د تجار د لور په اړه چرت وهلو چې په څه حال به وي.  اوس د کاروان سفر د ده مکتب و ځکه په صحرا کې .یواځې شګه نه وه، کله کله ډبرینې غونډۍ هم ښکارېدې

یو وخت د کاروان مخ ته لویه غونډۍ راغله نو دوي ترې تاو شول او په مخ ولاړل.  د څاروو پښې به په شګه ارام وې او دوي به د تګ پر وخت هڅه کوله چې په ډبرو پښې کې نه ږدي.  کله کله په اوچې مالګې پوښلې جهیل به ښکاره شو نو د څاروو ګامونه به ګړندي شول. ساربان او نورکسان به له اوښانو او اسونو ښکته شول چې دوي له هغه ځاې ژر ولاړ شي.  کله چې سهار به یو ستورې ولیدل شو نوپوهېدل چې دوي د اوبو او د

(c) ketabton.com: The Digital Library

کجورې ونو ته نږدې دي. ځوان اوس خپل اوښ په ښه توګه روانولې شو .او ده سره يې ملګرتيا شوې وه
کله به په لاره د يو بل کاروان سره مخ شول. هغه وخت دوي به يو بل ته داسې شيان ورکول چې دوي سره اضافه و يا نه به و. کله کله به په تورو جامو کې مخ پټ کسان په اوښانو يا اسونو سپاره راڅرګند شول او د کاروان سره به يې مزل کوو بيا به يې درک نه و. دا هغه بدوان و چې د کاروان ساتنه يې کوله. په صحرا کې هم غله او وحشي قبايل اوسېدل. د .شپې به ساړه و او دوي به د اور چاپيره ناست و
يوه شپه ځاروان خلکو ته وويل چې په قبايلو کې د جنګ اوازه ده. انګرېز پوښتنه وکړه،" ايا مونږ په خطر کې يو؟" ځاروان وويل، " څوک چې يو وارې صحرا کې داخل شي نو بيرته نشي تلې" ځوان هغهانګرېز ته ډاډ ورکړو چې مونږ که هر څومره اخوا دېخوا ولاړ شو او لاره ورکه کړو، اخر خپل منزل ته رسېږو" يوه شپه دوي دواړو له خوب نه ورتلو او د پړاو چاپيره يې قدم وهلو. ځوان هغه ته د خپل ژوند کيسه وکړه. انګرېز ورته د کيميا او د فلز معلومات ورکړل. ده ترې کتابونه وغوښتل او څو ورځې دا يې ولوستل. بيا يې بيرته ورکړل.انګرېز ترې وپوښتل، " څه دې "ترې زده کړل؟" ځوان وويل، "دا ټول معلومات ډېر ساده دي
د الفيوم نخلستان ته په رسېدو ځوان حېرانه پاتې شو. دا ځای د هسپانيې د يو ښار نه هم لوې و. ټول ځاې د کجورو په ونو پټ و چې شمېره يې پنځوس زره وه، پکې درې سوه کوهيان و او منځ کې بې شمېره خېمې ټک وهلې وې. انګرېز وويل، دا خو د الف ليلا د داستان په څېر ځاې دې، دلته قبايل به راباندې حمله خو ونکړي؟" ځاروان وويل، نخلستان د تل لپاره د امن ځاې وي دلته زيات تر ښځې او ماشومان اوسېږي، د قبايلو جنګونه په صحرا کې کېږي. نخلستان د پناه ځاې وي" د جنګ د خطر له کبله د دې قافلې خلکو ته د استوګنې لپاره ښه ځاې ورکړې شو. ټولو ته اعلان ووشو چې خپله وسله دې د ساتونکي قبيلې سردار ته وسپاري. په نخلستان کې د پوځي او د جنګيالي لپاره ځاې نه و. ځوان وليدل چېانګرېز يوه طفنچه له .خلتې راوويستله او سردار ته يې وسپارله
دوي سترې و نو په بېلا بېلو خېمو کې ويده شول. د ځوان سره پينځه نور صحراي ځوانان و چې په بل سهار له خېمې بهر يې ترېنه د ښارونو کيسې اورېدل غوښتې. ده د خپل شپانه توب ژوند کيسه وکړه او د بلورو د هټۍ

(c) ketabton.com: The Digital Library

خبره یې پېل کړې وه چېانګرېز ورپسې راغلو او وې ویل" زه د ډېر وخت نه د کیمیا ګر په لټه یم خو پیدا مې نکړو. ته راسره مرسته وکړه" بیا دوي ټوله ورځ ګرځېدل خو اخر د یو کوهي سره نږدې کېناستل. ځوان ورته وویل چې چا نه به پوښتنه وکړو خو انګرېز نه غوښتل چې خلک ترې خبر شي. وروسته یې وومنل چې ځوان به له چا په عربي پوښتنه وکړي. انګریز مایوسه شو خو ځوان ورته وویل، " زه هم د کیمیا ګر په اړه نه ووم خبر، له تا مې واورېدل، ممکن په دې نوم یې څوک نه پېژني" انګرېز وویل، " ښه نو بیا داسې وکړه چې له دوي پوښتنه وکړه چې دلته د ناروغانو درملنه څوک کوي"؟
ده یوې میرمنې ته چې له کوهي یې خپل مشک ډکوو پوښتنه وکړه. هغې ورته وویل چې د داسې سړي په اړه یې څه نه دي اوریدلي خبردارې یې ورکړو چې په تور لباس کې ښځې واده وي او پردې سړې دوي سره خبرې نشي کولې او پکار ده چې دې د هغوي د روایاتو درناوې وکړي.

ډېرې ښځې په تورو جامو کې د اوبو لپاره راغلې خو د انګرېز په ټینګار هم ځوان له هغوي سره خبرې ونکړې. یو سړې راغلو نو ده ترې پوښتنه وکړه. هغه وویل، "زمونږ علاج خداې پاک کوي" هم دغسې ډېرو سړو ورته سم ځواب ورنکړو. اخر یوه ځوانه ښځه راغله چې منګې ورسره و او تورې جامې یې نه وې اغوستې. ځوان چې د هغې تورې سترګې ولیدې نویوې بلې نړۍ ته یې کډه وکړه. د مینې او د ښایست نړۍ ته.
هغه فاطمه نومیده او ددې د پوښتنې په ځواب کې یې وویل، " هغه سړې د نړۍ له هر راز نه خبر دې او د صحرا د جناتو سره هم خبرې کولې شي" . بیا یې یو خوا ته اشار وکړه چې دې هلته اوسیدو
په بله ورځ ځوان بیا د هغه کوهي په غاړه ناست و او په دې حېرانه شو چې انګرېز هم هلته و او د صحرا خوا ته ځیر و. ده ته یې د کیمیا ګر سره د ملاقات کیسه وکړه. " ده رانه پوښتنې وکړې چې ما کله د فولاد نه سره زر جوړ کړي و، ورته مې وویل چې هم دغه چل ترې زده کول غواړم. ده راته وویل چې کوشش کوه او همت وکړه. انګرېز ډېر مایوسه و چې زما د ټول سفر پایله دا وه؟
ځوان ورته وویل، ښه ده نو کوشش کول پکار دي. انګرېز ولاړو نو فاطمه راښکاره شوه. منګې یې ډک کړو نوځوان ورته وویل، "زه تا سره واده

(c) ketabton.com: The Digital Library

کول غواړم." د هغې له لاسه منگې ولوېدو او ټولې اوبه ترې وبهېدې.
ورته یې وویل چې دې د خزانې په لټون راوتلې دې او جنگ که هر څو بد شې دې خو د ده لپاره ښه وه چې خپله مینه یې وموندله. فاطمې وویل، " جنگ به یوه ورځ ختم شي." هغې منگې بیا ډک کړو او روانه شوه.
په راتلونکو څو ورځو کې ځوان به هره ورځ کوهې ته تلو او د فاطمې سره یې خبرې کولې. ده اوس نه غوښتل چې مصر ته ولاړ شي خو هغې ورته وویل چې دی دی خپل خوبونه ریښتیا کړي او دا به یې انتظار کوي.
انگرېز د خپلې خېمې مخ ته یوه بټۍ جوړه کړې وه چې پکې هر وخت اور بلېدو. په دې اور به یو شفاف مرتبان ایښې و.
ځوان به صحرا ته ورتلو او یوه ورځ د کجورو د ونو نه اخوا په شگلنو تیرو کې یې صدف ولیدل. ده سوچ کوو دا زمکه به یو وخت د سمندر په تل کې وي. بیا پخپل سر یې د حرکت احساس وکړو نو اسمان ته یې وکتل. هلته دوه باز په الوت و. دې یو څه خوب وړې غوندې شو او وې لیدل چې یو باز په بل حمله وکړه. هم هغه وخت ده پخپل تصور کې یو پوځ ولیدو چې د تورو سره په نخلستان کې را دننه شو. دې هیښ شو. غوښتل یې چې دا انځور له زهن نه وباسي. د سپین ږیري خبره یې په زړه شوه چې شگون ته پام کوه.
دې بېرته د کجورو ونو ته ولاړو او نخلستان ورته خوندي نه ښکارېدو. یوې ونې سره څاروان ناست و چې په لیدو یې ورته وویل، یو پوځ را روان دې، ما د خوب په حالت کې دا پوځ ولیدو" ده ورته وویل، صحرا د انسان زړه روښانه کړي، ته باید د قبیلې سردارانو ته حال ووایې" ځوان وویل، دوي به را پورې ملنډې وهي" څاروان وویل، " دوي صحراي خلک دي او په شگون پوهېږي"
د نخلستان په منځ کې ځوان د سپینې خېمې ساتندوي ته ولاړو او وې ویل، " ما په صحرا کې شگون لیدلې دې " ده ورته څه وونه ویل او دننه ولاړو. کله چې را بهر شو نو سپین او طلاي عرب لباس اغوستې یو ځوان ورسره و. ځوان ورته د باز اود پوځ په اړه وویل.
په هغه شپه سپینه خېمه کې ډېر خلک راټول و. ځوان چرې د داسې ځاې تصور هم نه وکړې. په فرش قیمتي قالینې غوړیدلې وې او په لاس جوړ د سرو زرو فانوسونه پکې ځوړند و چې شمعې پکې بلیدې. د خېمې په بل سر کې سرداران ناست و او شا ته یې د زرې کار بالښتونه و. خدمت

(c) ketabton.com: The Digital Library

ګارانو به د مېوې او د چايو ډک طشتونه، چيلمونه ورته کېښودل. هلته اته سرداران ناست و او ځوان ټولو ته وکتل چې مشر به يې څوک وي. هغه د دوي د پوښتنو ځوابونه ورکول او د خپل خوب په اړه يې وويل.
ټولو د يو بل سره په داسې عربې خبرې کولې چې دې پرې نه پوهيدو. بيا يو سپين ږيرې ورته وموسېدو، " دوه زره کاله پخوا يو کس خوبونه ليدل، هغه خپلو ورونو په کوهي کې واچوو. زمونږ تجارانو دې مصرته يوړواو هلته دې مريې شو. د ده نوم يوسف عليه السلام و. ده د فرعون د خوب تعبير وښودلو. مصر يې د قحطۍ نه وژغورلو. دې هم له نااشنا وطن هلته ورغلې و او ښاي ستا د عمر و. مونږ د صحرا د رواياتو درناوې کوو او هيڅوک نخلستان کې جنګ نه کوي. مونږ د خپل دښمن سره لوز نامه کړې ده خو سبا به دا فسخ کړو. هيڅوک به په نخلستان کې وسله نه ګرځوي خو سبا ټوله ورځ به مونږ د وسلې سره د خپل دښمن څارنه کوو. د دښمن د لسو کسانو په وژنه مونږ تا ته د سرو زرو يوه ټوټه انعام کې درکوو. خو که سبا ماښامه پورې هيڅ ونه شول نو يوه وسله به په تا وکاروو.
ځوان له خېمې راووتلو او د څوارلسمې سپوږمۍ ته يې وکتل. دې پخپلو خبرو پښيمانه نه و. تر اوسه يې ژوند لکه د يو جوارې تېر کړې و. که سبا دې ووژل شو نو مانا يې دا وه چې خداې پاک د ده راتلونکې بدلولو ته تيار نه و. دې د نورو شپانو نه ښه و چې خليج نه پورې راغلو او دومره لويه صحرا يې وليده، فاطمه يې وليده. ناڅاپه دوړې باد شوې او د اس د پښو درزا ده ته ډېره نږدې ودرېده.
د ده مخ ته يو ډېر تکړه اس ولاړ و چې ورباندې په تور لباس ، تورپټکې، په تور نقاب پټ مخ سړې ناست و. د ده په اوږه يوباز ناست و. ده خپله توره راوويستله چې د سپوږمۍ په رڼا کې وځلېده. وې ويل، " چا د بازونو د پرواز د مشاهدې جرات وکړو؟ د ده غږ ډېر لوړ و او انګازه يې هرې خوا ته خپره شوه. ځوان وويل، " ما دا جرات کړې دي" او د تورې د ګوزار خوړلو لپاره يې خپل سر ټيټ کړو. خو هغه سړي خپله توره ښکته کړه او د دې څوکه د هلک د تندي سره ولګيده. د هغه له تندي د وينې يو څاڅکې پر زمکه پريوتو.
سپورغلې و خو بيا يې وويل، " تا ولې د مارغانو د پرواز مشاهده وکړه؟"
ځوان وويل، " ما هم هغه څه وليدل چې مارغانو راته ښودل ، دوي

(c) ketabton.com: The Digital Library

نخلستان ژغورل غواړي" سړي وویل، " خداې چې څه غواړي، هغه کوي، ته څوک یې چې دا بدلول غواړې؟" ځوان وویل، " کوم خداې چې پوځونه جوړکړي دي، باز یې هم جوړکړې دې او ما ته یې د باز ژبه راښودلې ده. " سړي د ده له تندي توره لیرې کړه او وې ویل، " د خپلې وړاند وینئې سره احتیاط کوه، کله چې څه ولیکل شي نو د هغې د بدلولو لاره نه وي" ځوان وویل، " ما یواځې پوځ ولیدو، د جنګ پایله مې نه ده لیدلې" سړي ترې پوښتنه وکړه چې په صحرا کې یې څه کول نو ده ورته د خپل خوب خبره وکړه. هغه خپل اس تاو کړو نو ځوان ورته په چیغه وویل، " ته کوم ځاې اوسېږې؟ " سړي جنوب ته اشاره وکړه نو ځوان پوهه شو چې ده کیمیا ګر سره یې ملاقات کړې و.
په بل سهار د الفیوم په ونو کې دوه زره وسله وال کسان ځاې پر ځاې و او له غرمې وړاندې په افق پینځه سوه قبایل راښکاره شول. په ظاهره دوي بې وسلې ښکاري۳ېدل او د نخلستان په منځ کې لوې سپینې خېمې ته ولاړل. خو د رسېدو سره یې له خپلو تورو جامو ټوپکې او تورې راوویستلې او په تشه خېمه یې یرغل وکړو. د نخلستان سپرو دوي له هرې خوا ګیرکړل او په نیم ساعت کې یې ټول ووژل. یوسالار یې پاتې شو او هغه د مشر سردار مخ ته یې یوړو نو ترې پوښتنه وکړه، " تاسو ولې د نخلستان روایت نه سر غړولې و؟" ده وویل، " زما خلک اوږي تږي او ستړي و، غوښتل مو چې د بل جنګ نه وړاندې دا نخلستان ونیسو".
د یرغل کوونکو سالار د کجورې د یوې ونې سره غرغره کړې شو. مشر هغه ځوان راوبللو او د سرو زرو پنځوس ټوټې یې ورته ورکړې. بیا یې وویل د یوسف علیه السلام په شان ته د مشیر په توګه مونږ سره کار کولې شې"
کله چې د ماښام لومړی ستورې راښکاره شو نو ځوان جنوب لوري ته روان شو. هلته یوه خېمه ولاړه وه او ځینو لاروو ورته وویل چې په دې کې پیریان اوسېدل. خو دې د خېمې نه بهر په انتظار شو. کیمیا ګر په اس راښکاره شو چې په اوږو یې مړه بازان راالختسي و. د ده په لیدو یې ورته وویل، چې دې باید هلته نه وې.
دې د اس نه راښکته شو او ځوان ته یې دننه راتلو اشاره وکړه. هغه خېمه هم د نخلستان د نورو خېمو په څیر وه. ځوان اخوا دېخوا وکتل خو هلته نه بټۍ وې او نه اوزار. د کتابونو څو ډېرۍ، د ډوډۍ پخولو شیان او یوه

(c) ketabton.com: The Digital Library

قالینه پر زمکه هواره وه چې مرموز انځورونه پرې جوړ و. کیمیا ګر ورته وویل، " کېنه، مونږ به یو څه څښنو او دا بازان به وریتوو." ځوان په زړه کې کرل ریښل چې ایا دا هم هغه بازان و چې ده په اسمان کې لیدلي و؟ خو هیڅ یې وونه ویل. اور بل شو او ځو شیبې وروسته خېمه د پخلي له خوشبوي ډکه شوه.

ځوان پوښتنه وکړه چې کیمیا ګر ولې د ده سره لیدل غوښته نو هغه ورته د شګون وویل او دا چې هوا ورته ویلي و چې د خزانې د تر لاسه کولو لاره به ورته ښاي. ځوان وویل، " ما خپله خزانه تر لاسه کړې ده، زه یو اوښ او د سرو زرو پنځوس ټوټې لرم او پخپل وطن کې به ډېر شته من کس یم" هغه ورته وویل، " دا هر څه خزانې پورې هیڅ اړه نه لري. ته خپل اوښ خرڅ کړه او اس واخله ځکه اوښ په زرګونو میله سفر کوي او نه ستړې کیږي خو یو وارې خپلې ګونډې پر زمکه کیږدي او مړ شي. اس داسې نه دې، تا ته د هغه ستړیا ښکاري او هم هغه هومره کار ترې اخلې، کله چې امري هم ته ترې خبریږې! "

په بله شپه ځوان په یو اس سپور د کیمیا ګر خېمې ته راغلو چې د ده په لیدو په یو ټوپ پخپل اس سپور شو. د ده په اوږه یو باز ناست و، ځوان ته یې وویل " په صحرا کې هرځاې چې دې ژوند لیدلو نو راته وایه، هم هغه خلک خزانه موندلې شي چې په صحرا کې د ژوند نښې لیدې شي". ځوان وړاندې او کیمیا ګر ورپسې نیم ساعت روان و. یوې تیږې سره د ځوان اس ورو شو نو کیمیا ګر ټوپ کړل، د یو ډبرې سره په سوري کې یې لاس دننه کړو او ځو شېبې یې د څه شي سره کشمکش و، بیا یې یو تور ښامار له لکۍ نیولې راویستو.

د دې تور ښامار زهر انسان په یوه شیبه کې وژلې شي او ځوان خبر و چې کیمیا ګر به یې په سوري کې چیچلې وي خو د ده په مخ د تکلیف احساس نه و. دې خپل اس ته ولاړو، توره یې راواخسته او د دې په څوکه په شګه یې یوه دایره جوړه کړه. کله چې مار یې په دې دایره کې یې کېښودو نو هغه ارامه شو. ځوان ته یې وویل، " دې مار تا ته په صحرا کې د ژوند شګون ښکاره کړو او زه د دې په لټون ووم.

ځوان اوس ناارامه و، " زه په نخلستان کې اوسېدل غواړم، دلته فاطمه ده او زما لپاره د خزانې نه کمه نه ده. که زه پاتې شوم نو څه به وشي؟"

کیمیا ګر ورته وویل، " ته به د نخلستان مشیر شې، ډېر مال ،پسونه او

(c) ketabton.com: The Digital Library

اوښان به ولړي، فاطمې سره به واده وکړې او د صحرا د ژوند سره به بلد شې.  بل کال  تا ته به هغه خزانه را یاده شي.  تا ته به هر وخت یو شګون د دې لاره ښاي خو ته به نه ځې.  ته به هره شپه اخوا دېخوا ګرځې او فاطمه به درته خفه کېږي چې د هغې له کبله تا خپل لټون پرېښودو.  بیا ته به خبرېږې چې ستا خزانه ورکه ده.  ته به شګون نشې تر لاسه کولې او کله چې قبایلي سرداران دا ووینې نو تا به د خپلې عهدې نه وشړي. خو ته به یو لوی تجار یې او هر وخت به دا چرت وهې چې تا ولې د خپل بخت ملګرتیا ونکړه خو بیا به ډېر ناوخته وي" ځوان وویل، " زه به سهار تا سره ځم"

د سپېده چاودې نه دوه ساعته وړاندې ده په خېمه کې یو هلک ته وویل چې دې د فاطمې خېمې ته دې بوځي.  په بدل کې یې ورته د سرو زرو یوه ټوټه ورکړه.  هلته په رسېدو یې وویل چې فاطمې ته د ده پیغام ورکړي چې دې ورته په انتظار و او یوه بله د سرو ټوټه یې هم ورله ورکړه. دې د فاطمې سره د کجورو ونو ته ولاړو.  دا د نخلستان د اصولو سرغړونه وه خو ځوان اوس دومره  پرواه نه ساتله.  فاطمې ته یې وویل چې دې مصر ته روان و خو بیرته به راشي ځکه ده  ورسره مینه لرله.  هغې ورته وویل چې دا به یې لاره څاري، د صحرا ښځې تل په انتظار وي.

کیمیا ګر هغه ځوان ته په لاره وویل، " څه چې دې شا ته پرېښي وي د هغې په اړه سوچ مه کوه."  ده خپل باز د ښکار لپاره واستولو چې پخپلو پنجو کې به یې سویه او مارغان راوړل.  دا به یې د ډوډۍ لپاره په اور وریتول.  په اوومه ورځ دوي د شپې پړاو وکړو نو کیمیا ګر ورته خپله د اوبو بتکه ورکړه، " ته د خپل سفر په وروستي پړاو کې یې."  ځوان وویل، " تا راته یوه خبره هم را ونه ښودله، تا ته ولي کیمیا ګر وای؟" هغه وویل چې دا علم یې د خپل پلار نیکه نه زده کړې و خو ده سره زر نه جوړول.  د کاینات د تخلیق په راز ځان خبر کړه او د دې لپاره د خپل د زړه غږ واوره.  راتلونکي دوه ورځې دوي په خاموشۍ له صحرا تېریدل ځکه په دې سیمه کې خونړي جنګونه روان و.  کله کله به یې په افق وسله وال کسان ولیدل او د ځوان په زړه کې به وېره پیدا شوه خو کیمیا ګر ورته ویلي و چې د خپل زړه پوهه لوی کار و.

په بله ورځ د قبایلو درې کسان په  دوي ورپېښ شول، وې نیول او پوښتنه یې ترې وکړه چې هلته یې څه کول.  کیمیا ګر وویل، " زه د خپل باز سره

(c) ketabton.com: The Digital Library

ښکار ته راوتلې یم." دوي له اسونو راښکته او تالاشي کړل. د ځوان نه يې پوښتنه وکړه، چې ولې دومره سره زر ورسره و. ده وویل چې د مصر اهرامونو ته روان و او دايې د لارې خرڅ و. د کیمیا گر په شیانو کې د بلورو په یو بوتل کې مایع وه چې د چرگې د اگې نه لږ لوې د ژیړ رنگ شیشې اگۍ پکې ایښې وه. هغوي ته يې وويل چې دا مایع د کایناتو یو جز و او هر څوک چې يې وڅښي هغه ناروغه کیږي نه. د دې شیشې یوه ټوټه هریو فلز په سرو زرو بدل کړي. عربانو په دې خبره وخاندل او کیمیا گرهم په خندا شو. دوي ورته د سفر اجازه ورکړه.
لږ وړاندې ولاړل نو ځوان ترې پوښتنه وکړه چې تا ولې هر څه هغو کسانو ته وويل. کیمیا گرووېل، " تا ته یو ساده درس ورکولو لپاره. کله چې تا کې ډېر جوهر وي او نورو ته يې واې نو هیڅوک دربانديې باور نه کوي."
یو بل ځاې بیا د قبايلو سره مخ شول چې دوي يې وړاندې نه پرېښودل خو کیمیا گر ورته وويل دوي ډېر لیرې نه ځي. د اهرامونو نه د دوو ورځو مزل پاتې و چې ځوان وويل ډېر ژر به مونږ له یو بل بېل شو نو خپل علم دې راته وونه ښودلو. کیمیا گر ورته وويل، " ستا له وړاندې نه ډېر څه کیمیا زده دي. د شگې نه یو سیپۍ راواخله او غوږ ته يې ونیسه نو د سمندر غږ به اورې."
په بله ورځ څو پوځیان په اسونو سپاره راښکاره شول او دوي يې خپل مشر ته بوتلل. هغه ورته وويل، " تاسو جاسوسان يئ! کیمیا گر وويل، مونږ مسافر یو او زه د خپل ملگري لار ښود یم چې کیمیا گر دې او ستا قبیلې لپاره يې ډېر مال راوړې دې" د ځوان کسوړه يې راښکله او د سرو زرو ټوټې يې ترې راوويستې او مشرته يې کېښودې. هغه دا واخستې او پوښتنه يې وکړه چې کیمیا گر څوک وي؟ ده ورته وويل، دې د فطرت او نړۍ نه خبر وي او که وغواړي نو ستاسو دا پوځي مرکز د بادو په زور ورانولې شي. ټولو وخاندل. سردار وويل " زه دا لیدل غواړم" کیمیا گر وويل، د ده درې ورځې پکارې دي چې ځان باد کړي" ځوان په وېره و او چې بهر راووتلو نو کیمیا گر ورته وويل، دوي ته خپله وېره مه ښکاره کوه. عربانو د دوي اسونه واخستل او نور يې پرې غرض ونکړو. ځوان وويل اوس به څه کوو ؟ زما ټوله شته مني تا دوي ته ورکړه. کیمیا گر وويل، "هو د دې په بدل کې مو درې ورځې ژوند واخستو. مونږ عربان

(c) ketabton.com: The Digital Library

په یو شي باور لرو چې یوه پیښه دوه وارې نه کیږي، که دوه وارې ووشي نو بیا دریم وارې هم کیږي. تا دوه وارې خپل شته د لاسه ورکړي دي. "کېدېشي دریم وار هم داسې ووشي".

لومړۍ ورځ تېره شوه او شا و خوا جنګ په زور روان و، ډېر ټپیان یې مرکز ته راوړي و. ځوان د کیمیا ګر په لټون صحرا ته ولاړو چې باز ته یې ډوډۍ ورکوله. له ده یې وپوښتل چې خپل ځان به څنګه په باد اړوي. هغه وویل، دا نړۍ د خدای پاک مادي اړخ دې او کیمیا ګر د دې روحانې اړخ نه هم خبر وي" په بله ورځ ځوان په یوې غونډۍ وختلو او ټوله غرمه یې د صحرا او د خپل زړه اوازونه اورېدل.

په دریمه ورځ د قبایلو مشر د خپلو نورو ملګرو سره هغې غونډۍ ته ولاړل. ځوان ورته د کېناستو وویل. ده افق ته کتل او د صحرا سره یې خبرې کولې چې دې فاطمې سره لیدل غواړي او د هغې لپاره باید دې ځان په هوا بدل کړي. صحرا ورته وویل، زه به شګه درکړم خو هوا سره خبره وکړه. ده هوا ته وویل، زه ستا په شان کېدل غواړم چې خپلې محبوبې ته ځان ورسوم. هوا د ده په مخ ولګېدو او شګه یې راوالوزوله. څو شیبې وروسته دا په طوفان بدل شو او لمر په شګو کې پټ شو. پوځې مرکز اوس نه ښکارېدو.

د صحرا خلکو دا باد پېژندلو او ورته یې سموم ویل. د پوځیانو اسونه هڼېدل او د دوي وسله په شګو ډکه شوه. د جنګیالو مخونه په نقاب پټ و خو د دوي له سترګو وېره ښکارېده. سردار وویل ، "باید دا پاې ته ورسیږي" خو ځوان اوس د لمر سره خبرې کولې. په صحرا کې خېمې له پړیو اوشکېدې، څاروي وتښتیدل او د غونډۍ په سر ټولو د یو بل لاسونه نیولي و چې هسې نه والوځي. ځوان د محبت په مټ د کایناتو له روح تېر شو او وپوهېدو چې د ده روح د هغه برخه شو.

د سموم باد داسې راغلو چې هغه پوځي مرکز یې تباه کړو او څو کاله وروسته هم خلکو دا کیسه یو بل ته کوله چې یو عرب خپل ځان د یو زوره ور سردار مخ ته په هوا بدل کړې و. کله چې باد ودرېدو نو هر چا د ځوان د لیدو هڅه کوله چې اوس د مرکز سره نږدې یو ساتندوې سره ولاړ و. خلک ترې په وېره و خو دوه کسان موسېدل. کیمیا ګر او هغه سردار.

په بله ورځ سردار دوي سره یوه ډله وسله وال بدرګه واستول او دوي ټوله ورځ سفر وکړو. ماښام دوي یو کلسیا ته ورسېدل نو کیمیاګر له اس ښکته

(c) ketabton.com: The Digital Library

شو. هغه بدرگه ډله ببړته واستوله او ځوان ته یې وویل، له دې ځای نه وړاندې به ته یواځې سفر کوې. اهرام اوس د درېو ساعتو په مزل و.
ده د کلیسا دروازه وټکوله او یو پادري راښکاره شو. هغه سره یې په عبراني ژبه څو خبرې وکړې او ځوان ته یې وویل، " ما د دوي په پخلنځې کې د کار اجازه واخسته" بیا دوي د کلیسا شا ته جوړ پخلنځي ته ولاړل.
کیمیا گر په یو انغري کې اوربل کړو او پادري ورته لږ فولاد راوړل چې ده د اوسپنې په یولوښي کې په اور کېښودو. کله چې دا ویلې شو نو کیمیا گر د خپلې کسوړې نه د ژېړ رنگ اگۍ راوویستلې او په موم کې تاو شوې د وېښتو په شان نقریې تار پکې ورواچول. دا هر څه په سور رنگ واوختل نو لوښې یې له اوره ښکته کړو او د پادري سره یې د جنگ په اړه خبرې پیل کړې.
پادرې وویل ددې جنگ له کبله قافلې په غزه کې ایسارې دي خو د خدای امر به په ځای کېږي. کله چې لوښې سوړ شو نو ځوان هک پک پاتې شو. په هغې کې سره زر پراته و. ځوان پوښتنه وکړه، " دا زه زده کولې شم؟"
کیمیا گر وویل، " دا زما قسمت و، ستا نه، خو دا مې ځکه درته ښودل چې هر څه امکان لري" ده هغه سره زر په څلورو برخو ووېشل، یوه یې پادري ته ورکړه چې د زایرینو خدمت یې کړې و. بله یې ځوان ته ورکړه چې د ده ټول سره زر یې سردار ته ورکړي و. درېمه یې ځان سره وساتله او څلورمه یې پادري ته ورکړه چې د ځوان لپاره امانت وساتي او چې کله یې پکار وي ورته ورکړي.
ځوان څو ساعته نور په صحرا کې روان و او د خپل زړه خبره یې اورېده. کیمیا گر ورته وېلي و چې کوم ځای ستا زړه درته ووای هم هلته به خزانه وي. د یوې غونډۍ په سر چې وورسېدو نو اهرام ورته ښکاره شول. دې په گونډو شو او د خدای په شکر یې وژړل. بیا یې پام وکړو چې کوم ځای د ده اوښکې توې شوې وې هلته یوه توره ډمبره (غالبوزه) تاوېده. دا یو ښه شگون و.
ده هم هلته کنستون پیل کړو. خو د ټولې شپې د کنستون نه وروسته هم څه یې ونه موندل. د ده لاسونه تناکي شول او په خاورو کې یې یوه لویه تیږه مخ ته راغله. ناڅاپه په تیاره کې څوکسان راښکاره شول او له ده یې پوښتنه وکړه، چې هلته یې څه کول. دې له وېرې غلې و او هغو کسانو د ده تالاشي واخسته نو په کسوړه کې یې سره زر وموندل. دوي وویل ښاي

(c) ketabton.com: The Digital Library

تا نورسره زر په دې خاوره کې ښخ کړي دي، دا زمونږ پکار دي. ده ته
.يې د کيندنې امر وکړو خو هيڅ رابرسېره نشول
د سپيده چاودې پر وخت هغوي د ده په وهلو پيل وکړ او دومره يې ووهلو
چې جامې يې وشلېدې او په وينو سور شو. ځوان ته خپل مرګ نږدې
ښکارېدو. په چيغه يې وويل، " ما د يوې خزانې لپاره زمکه کيندله" بيا
يې دوي ته خپل خوب بيان کړو. د هغو کسانو مشر ورته وويل، " ته بې
عقل يې چې په خوبونو باورکوې. دوه کاله پخوا په دې ځاې ما يو خوب
بيا بيا ليدلو چې زه د هسپانيې يو وران کليسا ته ځم چې يو شپون د خپلو
پسونو سره پکې ويده دې. د کليسا په منځ کې د مصري شهتوت لاندې يوه
خزانه ده چې بايد ما تر لاسه کړې وې. خو زه دومره کم عقل نه يم چې د
خپل خوب د ريښتيا کولو لپاره له دې لوې صحرا نه تېر شم." دوي ورته په
بدو ردو وېيلو ولاړل نوځوان راپاسيدو. د اهرامونو لوري ته يې وکتل چې
.ورپورې يې خاندل. ده هم وخاندل او پوهه شو چې خزانه چرته وه
څه موده وروسته ځوان د هسپانيې په هغه وران کليسا کې ملاست و. هغه
وخت يې را په زړه شو چې د خپلو پسونو سره هلته ويده کېدو. اوس يو
کودال ورسره و. په بله غرمه ده د مصري شهتوت په جرړو کې زمکه
وکيندله او نيم ساعت وروسته ده يو هسپانوي صندوق رابرسېره کړو چې
له سرو زرو د سيکو او قيمتي ډبرو ډک و. د ده په سر اوس څو کارونه
و. په تعريفه کې هغې سپين سرې ته د خزانې لسمه برخه ورکول و. د
افريقه نه راتلونکې هوا " ليوانټر" د ده پر مخ ولګېدو چې پکې نه د بدوانو
د حملو وېره وه او نه د صحرا خوشبوي و. په دې کې هغه خوشبوي و
چې د فاطمې له وجود راوتلې و. ده وويل، " فاطمې زه در روان يم.
" پاى

**Get More e-books from www.ketabton.com**
**Ketabton.com: The Digital Library**